آصف بهاند ۲۰۱۳/۱۱/۱۳

# د شمشاد له هسکې څوکې

( د ډنمارک په کوپنهاګن کې د شمشاد تلويزيون د اروپايي څانګې د پرانستل کېدوپه غونډه د شمشاد مسؤولينو سره دزړه خواله اوڅووړانديزونه )

د شمشاد له هسکې څوکې کړه راڅېغې
کړه راڅېغې غږدې جګ کړه
راخبرکړه دا خوب وړي
څه خو وکړه
څه راجوړ کړه
چې دمه شي دغه ستړي.
( آصف بهاند )

شمشاد دوې ماناوې لري:
۱ـ يوه لوړه دنګه غرنۍ ونه ده چې ګردې پاڼې لري، لرګی يې کلک دی.
۲ـ په تورخم کې د يوه غره نوم دی.
د پښتو- پښتوتشريحي قاموس د څلورم ټوک په (۲۹۳۵) مخ کې يې مانا کټ مټ همداسې رواوړل شوې.اوس په دې نامه (شمشاد) يوتلويزيون خپروني کوي، چې دا دی نن يې دخپرونو د پراخيدوله پاره دا غونډه جوړه شوې ده.
« د شمشاد له هسکې څوکې »،په اصل کې ديوې شعري ټولګې نوم دی چې کلونه پخوا په هغې کې داستاد نصرالله حافظ څوخواږه اوله درده ډک شعرونه راوړل شوي وو،ما د دې ليکنې له پاره داسرليک ځکه غوره کړ چې شمشاد يوتلويزيون دی او دا تلويزيون که په رښتيا دزړه له کومې په پاکه د خلکواو د وطن د ملي ګټوله پاره د خپل نامه له مانا سره سم د شمشاد له هسکې څوکې د دې بيوزلوخلکوغږاو د دې مظلوم وطن د حال ځرنګوالی د نړيوالې ټولنې غوږوته ورسوي،په داسې يوه نيمه تياره ټولنه کې به د يوې روښانه ډيوې رول ولوبوي، نو لرې نه ده چې يوخوا به دا درديدلی ولس په خپلو تأريخي حقايقو پوه شي،اوله بلې خوابه نړيواله ټولنه هم زموږپه ټولنه کې په شته منفي اومثبتوحقايقوباندې خبرشي اوخپل کړه به په سم لوري اوسمې تګلارې باندې ورسيخ کړي.
په دې لنډه ليکنه کې زه نه غواړم ستاسې وخت په دې ضايع کړم چې په افغانستان کې دميډيا تاريخچه څنګه وه، څه وخت چاپ رامنځ ته شو، د راديوغږکله اوپه څه ډول د هوا په څپوکې خپور شو، د تلويزيون په نامه يوشوخ ماشوم کله اوڅه ډول وزيږيد او د کمپيوټر نړيوال جال څه ډول دا ارت جهان په داسې يوه واړه کلي بدل کړچې کليوال يې هره شيبه يوبل ګوري اويوبل ته ضررونه اوګټې رسوي.
دلته زما بحث د ميډيا پرهغې برخې باندې دی چې تلويزيون نوميږي،زموږ په هيواد کې يوه ډيوه چې بايد تياره لارې اوتيارې کوڅې روښانه کړي، د شمشاد په نامه ډيوه ده چې له بليدونه يې ډير وخت نه تيريږي.
په مستبدو رژيمونوکې، ملي ګټواوخلکوته ژمنه ميډيا له خطرسره مخامخ وي.زه به يې يو لنډکی مثال تاسوته ووايم چې خندونکې بڼه هم لري.په پښتو ويبپاڼو کې کله يونيم داسې انتقادي مطلب راشي چې ټول واقعيتونه په لنډه خوږه هنري ژبه په کې بيان شوي وي، خومستبدين يې په ټپه دروي.په ټاند ويبپاڼه کې يو واريوجالب سرليک راغی چې په لومړي نظرکې يې زما پام ځانته داسې واړاوه چې په يوه سامې ترپايه څوځوځلي ولوست:
« طنزي تعريفات »، ليکوال:عبدالنافع همت.
نافع صاحب د طنزي تعريفاتو تر سرليک لاندې د ټولنې داسې حقايق راسپړلي ووچې د ليدلو او لوستلو وړ، خودوبلونه دي، مګرنافع د فرهنګ اوخلکو د نفعې له پاره جرأت کړی، په کُميکه انتقادي او سکونډونکې ژبه يې دغه حقايق ويلي دي.زه نه پوهيږم چې عبدالنافع همت به د ليکوال خپل نوم وي اوکه مستعارنوم.په هرصورت، ډيرجالب خندونکې اوانتقادي تعريفونه يې ليکلي و.دوې برخې يې خپرې شوې،بيا نه د ليکوال د طنزي تعريفاتوپته ولګيده اونه هم د نورو ليکنو.يا به بندې اوتهديد شوی وي اويا به يې له ډاره خود سانسوري کړې وي.د نافع صاحب د طنزي تعريفاتو يو څوبيلګې به تاسو ته رانقل کړم: ((


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالې د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالیږلو مخکې په خير و لولئ

ولسمشر:
هغه چاته ويل کيږي چي کله ويښ وي د واک د ټينګيدوفکرونه يې آرام ته نه پرېږدي اوچي کله ويده وي دواک دغځيدوخوبونه يې آرام ته نه پرېږدي.
وزير:
هغه بيوزلي دولتي مامور ته ويل کيږي چي دورځي له خوا په افغانستان اودشپې له خوا په دوبی کي اوسيږي.
مشاوروزير:
هغه چاته ويل کيږي چي دمشورو درک يې نه وي معلوم، بس لګيا وي خپل نخود خوري.
پارلمان:
د ملت د استازو هغه ډله چي له ډيره غمه په کال کي يو خروار وچه ميوه خوري.
ملي مشارکت:
د حکومت هغه ماډل ته ويل کيږي چي د ملت د هرلوی او کوچني قوم په استازيتوب يوازي د هغوی فاسدو خلکوته ونډه ورکړی سي.
ملي مصلحت:
هغه ډول سياست ته ويل کيږي چي په هغه کي هيڅ يو مافيايي باند اوجنايتکارنه خفه کيږي.
ستره محکمه:
د دولت هغه شپږمه کوټه ده چي د يوکيلوګرام ترياکو له امله يو چاته د شلوکالوبندسزا ورکوي، خودوستم اوچکري ته په بد نظرهم نه سي کتلای.
والي:
هغه دولتي مامور ته ويل کيږي چي د وظيفي تراشغال دمخه خپله په کرايي کور کي اوسيږي، خوتريوې مياشتي کار وروسته نورو خلکوته دوه کورونه په کرايه ورکړي.
مارشال:
په لغت کي هغه مارته ويل کيږي چي په شال کي پټ وي، خوپه نظامي اصطلاح هغه زړه ورافسرته ويل کيږي چي په خورا زړورتوب اوميرانه د نړيوالو نظامي ځواکونوپه مخ کي ودريږي، ياني هغوی خپل هيواد ته راوبولي.
مفتي:
هغه طوطي چي يوازې يې د « کافرسوې!» کلمه زده کړې وي.
تراهګر:
په افغانستان کي پښتون اوپه نړيواله کچه هغه چا ته ويل کيږي چي دامريکا خبره نه مني.
ايساف:
هغه اجير لښکرته ويل کيږي چي د سولي پرمهال خزانه خالي کوي او د جګړې پرمهال اوړه خالي کوي.
امنيتي کمپنۍ:
د نا امنۍ جوړولو هغه اداره چي دغلا او وژنو رسمي جواز ولري.
ګمرک:
دا يوه مرکبه کلمه ده چي د فارسي ژبي له « ګم» او د پښتوژبي له « ورک » څخه جوړه ده، ياني هغه دولتي اداره چي په هغي کي ملي عوايد تري تم کيږي.
حرام:
هغه څه چي سړي ته په لاس نه ورځي.
ږيره:
دمخ هغه ويښتان چي د جهاد په موسم کي اوږده پرېښودل کيږي او د ديموکراسی په موسم کي لنډ اويا خريل کيږي.
کانديد:
دا يوه مرکبه کلمه ده چي دپښتوژبي له « کان » او د دري ژبي له « ديد » څخه جوړه ده، ياني هغه څوک چي دګټواوپيسو پيدا کولو کان يې ليدلی وي اوغواړي چي ځان ور ورسوي.
ژورنالست:
د انتقادونو هغه جوال چي ټل يې خوله خلاصه وي.))


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ

البته که شمشاد هم کله دې ته ورته حقایق ووایي، نو ممانعتونه او دیوالونه یې مخ ته جوړیږي چې مسؤولین به یې په میړانه اوجرأت سره ورته دریږي.ځکه چې اوس درڼا اوتیارې جنګ دی، ډیوه غواړي تیاره لار رڼا کړي، خوتیاره مقاومت کوي او د تیارې استازي نه غواړي رڼا راشي او د دوی ژوند ته د پای ټکی کیږدي.دا جګړه په ټوله نړۍ کې په خرپ اوترپ روانه ده او روانه به وي، خوزما په وطن کې دا خرپ اوترپ له ښایسته ډیرې مودې روان دی اوکه واقیت وګورو تیاره او د تیارې استازي یوڅه برلاسي هم دي؛خودا هم یوعیني واقعیت دی چې په نړیواله کچه او وطني کچه د نوې تکنالوژۍ اوتمدن په رڼا کې شرایط، غوښتنې اوپوښتنې نوې شوې اوبدلې شوې دي.د همدې بدلونونو او امکاناتو نه په استفادې سره میډیا کولای شي خپله ملي اوریښتنې لارپیدا کړي.اوشمشاد باد دغسې وکړي.
اوس په دې حقیقت د نړیوالو ډیره سلنه قانع شوې ده چې میډیا وروسته له مقننه، اجرایه اوقضایه قوې نه څلورم ځواک دی.اوس همدا څلورم ځواک(میډیا) کولای شي چې لوی اوځواکمن واکداران په ګونډوکړي.ډیرلرې نه، دا څه موده پخواپه انګلند کې د رادیو یوه عادي مایک ګوردن براون په انتخاباتوکې په ګونډوکړ.
دمیډیا هره برخه زموږ له هرې خوا ځپل شوې، ټپي شوې، کړول شوې اوتیاره کړای شوې ټولنې کې رڼا کونکې ډیوې دي، په تیره شمشاد چې د بهرنې فرهنګي یرغمل په مقا بل کې د دریدو او د ټولنې اوخلکود اذهانو د روښانولو رسالت ورله غاړې دی اوپه اوسنیو حالاتوکې د همداسې یوې ډیوې حیثیت لري او باید خپل رسالت په افغاني میړانې ترسره کړي.
دا د شمشاد د مسؤولینو، اوټولوفرهنګیانو او هغوکسانو چې د هیواد د ملي ګټوپه باب فکرکوي، د افغانانو په باب فکرکوي، د افغانستان په باب فکرکوي دنده ده چې دا ډیوه مړه کیدوته پرې نږدي، بله یې وساتي او داسې یې وکاروي چې د دې بیوزلو انسانانو تیارې خونې او تیارې لارې ورباندې روښانه شي.
د رنګارنګ بادونوپه تودو سړوڅپوکې مو ولیدل چې کله د سوټه کراسۍ په دایره کې اوکله هم د دیموکراسۍ؟په اړودوړکې زموږد هیواد د میډیا په ډګرکې کوم بدلونونه راغلي دي، یوهم زموږ د ټولنې د ظرفیت په پرتله د ډیرو او رنګارنګ تلویزینونو رامنځ ته کیدل دي.

- ځوک صالح،ځوک نا صالح،
- ځوک په ګفت اوځوک بې ګفته،
- ځوک ملي ځوک نا ملي،
- ځوک دي خپل اوځوک پردي.

ځوک د ملي ګټوله کړکۍ نه د باندې ګوري، او ځوک هم د پردو ګټوته ډولونه وهي اوځنې ورته اړوي، خوپه ټولوکې ګډ ټکی دا دی چې هریو د ناپیل توب اوخدمت ټټر وهي، اوځینې یې بیا د ناپییل توب ترپردې لاندې داسې پییلي دي چې له خپلې مرجع نه یې را جلا کول د ماهي او اوبو کیسه ده ، یعنې که یې له خپلې مرجع نه راجلا کړې نوبیا ... هیڅ.
بل قاضي هم نه شته، یوازینی قاضي وخت دی چې د وفا اوجفا ترمنځ د برید کرښه راکش کړي اودوفادار اوجفا کارځیرې خلکوته وښیي.
د افغانستان د میډیا په آسمان کې چې کوم تلویزیونونه راځلیدلي دي، نیمګړتیاوې اوښیګڼې یې باید متوازي وښودل شي، چې دا یوجلا بحث دی، او د مقالو او کتابونو د حوصلې په چوکاټ کې باید خبرې پرې وشي، خو د اوس له پاره یوازې زه دومره ویل غواړم چې د افغانستان د میډیا ټولې برخې، په تیره تلویزیونونه ډیر په بیړه مخ پرورړاندې روان دي چې دا د زمان یوه اړتیا هم ده، خو دا باید هیره نه شي چې له منډوسره که لږتیر وتنه وشي لویدل هم شته.اوپه بیړه وړاندې تګ یې ځکه اړین دی چې یوخوا زموږ پروطن، ژبې اوکلتورباندې د فرهنګي یرغل ځپې له سختوبادونوسره رواني دي چې مخه یې باید ونیول شي، او له بل پلوه د تمدن، تکنالوژۍ او د ژوند په ټولو برخوکې پرمخ تلونکی کاروان په چټکۍ سره مخ پرورړاندې روان دی، په دې کاروان پسې ځان رسول هم مطرح دي.
که نړیوال د المپیک ډیوې د خپلو ویاړونوله پاره نورو ستورو ته خیژوي اویا یې د سمندر ژورو ته ورښکته کوي، موږ خوهم دومره حق لروچې د خپل ټولنیز ژوند د تیارو د روښانولو له پاره د تلویزیون په نامه یوه ډیوه ولرو.اوس یې چې لروباید سمه یې وکاروو، خپلې لارې پرې رڼا کړو، نه د نورو.
تجربې ښودلې ده چې افغانان کله کله دغه وسیله ( تلویزیون ) د سیاسي، قومي او ژبنیو تضادنوله پاره په منفي ډول کاروي اوحتی یوبل ته مخامخ بد رد هم وایي، چې دا ډیرې بدې اومنفي پایلې لرلای شي.په داسې حال کې چې د


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

میډیا دغه عصري وسیله باید د ټولو ژورنالستیکي منل شوو قوانینو او اخلاقو په چوکاټ کي د ملي ګټو په نظرکي نیولو سره وکارول شي.
زموږهوښیاري به په دې کي وي چي خپل ټول لاس لرلي امکانات د خپل ویاړلي تاریخ په نظر کي نیولوسره، دملي ګټوپه چوکاټ کي د انسان په ګټه، د افغان په ګټه داسي وکاروو چي هم موتیاري پرې رڼا شي اوهم د تمدن اوتکنالوژئ د نړیوال کاروان د انساني قدمونو په تعقیب سره د نړیوالو سیال شواوکه نه لږ نه ده چي ځوکاله وروسته به د نړئ دوروسته پاتي اوبدوي خلکو په لست کي یا دریم ځای ولړو یا دویم اویا هم لومړی.
دا تریخ واقعیت په یاد ولرئ چي په رنګارنګ نومونو دښمن هرکله موږ ته د قلم پرځای ټوپک او د کتاب پرځای بم په لاس کي راکړی.تر ډیرو پورې او لا اوس هم په ډیره سلنه خلکوکي د ویاړ وړخبره دا وه اوده چي:
پلانی وسله لري، عجب سړی دی، ځوانانو پورې وسله ښه ښکاري، پلانی ځوان داسي نښنه ولي چي ستن هم نه ورنه خطا کیږي، ودې ته ورته نوري تیرایستونکي جملې؛خو دا هیڅ چا نه دي ویلي چي:
پلانی ځوان یا پیغله ډیره ښه مطالعه کوي، په فزیک، کیمیا، بیالوژي، ریاضي اوکمپیوترښه پوهیږي او...؛
نن ورځ باید همدا میډیا او همدا تلویزیون اوهمدا شمشاد زموږله ټولني نه او زموږ د خلکو او ځوانانو له ذهن نه له وسلي سره مینه وتوري اوپاکه یې کړي، د میډیا د نده ده چي د ټوپک د فرهنګ پرضد ودریږي اوپرځای یې د قلم د کلتورپه دودولو کي کارنده برخه واخلي، له نویو علومو پرمختګ اونوي ټکنالوژئ سره د میني زړی د ځوانانو په ذهنونو کي وکري، د معارف او زدکړې کلتور خلکوته وښیي او د سواد د زدکړې د کلتورعاملوته پام وکړي؛دا کارد تلویزیون له لارې ډیرموثره، ژر او په ښه وجه ترسره کیدای شي، اوشمشاد باید دا کار په خپلو لومړیتوبونو کي وشمیري.
البته په افغانانو کي دا هم یوتریخ عیني واقعیت دی او اوس پرته له دلیل او بحث نه ثابته ده چي افغانان په هرڅه کي افراط او تفریط کوي.په مرې کي، په ژوندي کي، په مینه کي، په دښمنی کي اوپه ...
چپیانو په چپي توب کي افراط وکړ، ښی لاسي همدا اوس لګیا دي هغه افراط یې تردې حده رسولی دی چي ډوزې یې لګیږي او هرڅه د افراط او تفریط ترسیوري لاندې د تباهی د کندې پرڅنده ولاړ دي او که په خپلوخبرو کي زه هم لږ افراط وکړم،لا د تباهی کندې ته ورلویدلي هم دي.
ولي په زیره کئ سره د لرغوني یونان د استاتیدو دا خبره نه سرمشق کووچي لا مخکي له میلاده یې ویلي وو:
« نه افراط نه تفریط، طلایي منځ لاره.»
زما هیله د شمشاد له مسؤولینو او کارکوونکو نه دا ده چي د افراط او تفریط لارغوره نه کړي، منځلاره غوره کړي.په ټولو پروګرامونو کي د خلکود اذهانو روښانولو ته پام وکړي، د نوي نسل د ښوونې او روزنې مسأله هیڅ کله هیره نه کړي او دایي باید شعاروي:
« نوی نسل، ښوونه روزنه او روښانه راتلونکې!»
زما په اند په هغي ټولنه کي چي د ژوند ډیرې برخې په تیاروکي سره ورکي وي، په هغي ټولنه کي د ډیوې بلول ثواب دی، دیوه تلویزیون خپروني جاري کول چي د ملي ګټو ساتندوی وي ترټولو سترخدمت باید وګڼل شي.
د ټولو علومو اوهنرونو پایه او اساس معارف دی.د معارف له پاره کار، د علم له پاره کار دی او د علم له پاره کار د ژوند له پاره کار دی، د دغو ټولو وظایفو په ترسره کولوکي د تلویزیون رول ډیرمهم دی.شمشاد باید په دې برخه کي خپله لاره پیدا کړي اوخپله دنده ترسره کړي.
د میډیا له پاره، په تیره د تلویزیون له پاره بله خبره چي ډیره مهمه ده هغه د ژبې مسأله ده.کومه ژبه چي تلویزیون یې کاروي باید ډیره سمه، دقیقه اوګرامري وي، دترمینالوژئ مسأله هم مهمه ده چي نطاق یا ژورنالست باید تروسه وسه خپله ملي ترمینالوژي وکاروي، د خبر ژبه او د راوي ژبه باید په کي ښکاره وي او...
که د تلویزیون دمسؤولینو او ویاندانو ژبه او تلفظ ناسم وي، لیدونکي او اوریدونکي په تیره ماشومان یې نا سم زده کوي او د یوې مهمې مرجع په توګه اعتبارهم وربانديې کوي، نا لوستي او کم مطالعي لویان یې په غلطه پیروي هم کوي.
دا خبرې چي ما د شمشاد له پاره وکړې، دا د کومې شخصي اړیکي یا ځانګړې میني پربنا نه دي.زه د شمشاد چلونکي او کارکونکي یا نه پیژنم اوکه یې کوم کارکونکی یا مسؤول پیژنم، وربانديې خبرنه یم چي د شمشاد له پاره کارکوي، خو د یوې ریښتیني رسنی په ډول یې خپله ګڼم او د افغانانو د ذهنونود روښانولو د یوې وسیلي په ډول مینه ورسره کوم اوپه دې هیله مي دا ځوکرښې ورته ولیکلې چي خپل انساني اوافغاني رسالت د افغانستان د ملي ګټو پربنا ادا کړي.د اروپا یې ځانګي دیرانستلو مبارکي ورته وایم اوبریالیتوبونه یې غواړم.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

اوپه پای کې زما دغه آزاد شعرد شمشاد له ستوني:
ای هی دلرې کلي خلکو!
دا يمه، راغلمه
شمشاد يمه
خبرې کوم
غږمې در رسي که نه؟
دغه يم، راغلمه
له لرې لرې
پاس د شمشاد له هسکې څوکې
ستاسوکورته راغلم
دا دی د زړه له کومې
غواړمه خبرې وکړم
په مينه مينه
د زړه خواله وکړم
دا دی راغلی يمه
غږ کومه:
ځانته يوځوک لټوم
داسې يو څوک
چې يو لوی غوږ
اورنې سترګې يې وي
غږ مې در رسي که نه؟
څيره مې څنګه ښکاري؟
دا دی په مينه او اميد درته ناري وهمه
د هو اونه راته ځواب ووايئ
که درته ښه و،
هوځواب ووايئ
اوبيا ثواب ووايئ !!!

پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ